مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رحمت څواکمن

۲۰۲۳/۰۹/۰۸

# هغه فلزات چې د زبرځواکو سترګې ورته برندې دي

# (۲)

د تیر په دوام:

غوره ده چې د طبیعي سرچینو، څمکنیو خامو موادو او کاني زیرمو د نړیوال ارزښت ځنې نورې برخې هم را وسپړو.

کیدای شي، په تیره لیکنه کې مو د راتلونکي شنه او تکنالوجیکي انقلاب لپاره د ځنو کم موندونکو فلزاتو په هکله لوستلي وي. چې څرنګه ورته زبرځواکونه په کمین کې ناست دي. دوی هغو سیمو او هیوادونو ته سترګې برندي نیولي دي چې دا کاني مواد په کې موندل کیږي. په دوه زره اتلسم کال کې یې د نړیوالو صادراتو او وارداتو ارزښت شاو خوا لس ملیارده ډالرو ته رسیده.

له نیکه مرغه د افغانستان د غرونو او غونډیو خیټې هم له ډیرو رنګارنګ فلزاتو، منرالونو، لعلونو او سروزرو ډکې دي.

که د ښکیلاک او صنایعو د تاریخ پاڼي راواړوو نو په کې کتلای او پوهیدلای شو چې، له ډېرو سکرو پرته به هیڅکله هم صنعتي انقلاب نه و پیښ شوی، له اوسپنې پرته به د اوسپنې پټلی، له لرګیو پرته به د استعماري کشفیاتو هیڅ سمندري بیړی او د نفتو او ګازو پرته به هیڅ نړیوال پرمختګ نه و رامنځ ته شوی.

د نړیوالو اړیکو او ستراتیژیکو مطالعاتو یو هالنډی استاد ( راب دی ویک)وایي چې " مثال تکراریږي، یوازې ماده تغییر مومي یا بدلیږي او اوس د شنه انقلاب لپاره د نادرو یا لږ موندونکو فلزاتو د ښکار او لټون وخت دی."

پخوانیو استعمارچیانو او ښکیلاکګرو چې په خپلو مستعمره هیوادونو کې، د خامو موادو د ترلاسه کولو لپاره کومه چټله لوبه پر مخ وړه په هغې کې اوس هم ډیر زیات بدلون نه دی راغلی.

پخوانیو ښکیلاک ګرو په خپلو مستعمرو کې داسې مصنوعي سیاسي ټیکاو رامنځ ته کړی و چې ، غټ حکومتي چارواکي یې فساد او د خپلو ځانونو پرسولو ته پرېښي و. د ولسي بیوزلو وګړو پر کار او زیار به یو څو تنه ګمارل شویو او پلورل شویو فاسد چارواکو او د هغوی بهرنیو استعماري هیوادونو ځانونه مړول، خو بیوزلي عام وګړي په کې د کومي دوام لرونکي او بنسټیزي پرمختیا سره مخ شوی نه دي. له همدی امله په هیڅ یوه مستعمره هیواد کې د ولسي عادي وګړو ژوند نه دی ښه شوی او د وګړو تر منځ یې خپل منځي تاوتریخوالي، بی عدالتی او ناراضي حالت دوام موندلی دی.

استعمارګرو طبیعي سرچینې لکه نفت، اوسپنه، سره زر، کلک لرګي او نورې مالي منابع په خپلو منګولو کې نیولې وی. د دی موادو د وړلو لپاره یې یوازې لاری او سمندري بندرونه جوړول، له دې پرته یې هیڅکله هم نه غوښتل چې پر خپلو مستعمره هیوادونو کې د صنایعو پر مختګ او بنسټیزو کارونو ته لاره هواره کړي.

په منځنیو پیریو کې اروپایي استعمارګرو د نړیوالي سوداګرۍ یوه داسې کړۍ رامنځ ته کړې وه چې، د افریقې له لویې وچې به یې افریقایي مریان په سمندري بیړیو کې نوی موندل شوی د امریکې لویې وچې ته وړل، هلته به یې وربانديې په څنګلونو او کروندو کې کارنه کول، له امریکې به یې خام توکي اروپایی فابریکو او کارخانو ته راوړل او بیا به یې پاخه او صنعتي شوي قیمتي توکي د اسیا او افریقې بازارونه ته وړل او هلته به یې پلورل.

اوس مریتوب او استعماري حالت په پخوانی حالت نښته خو د زبرځواکو په نوی استعماري سلوک اوچلند کې هم ناوړه موخي له ورایه ښکاري او په ظلم او بی عدالتی کې یې دومره تغییر نه دی راغلی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

هغه هیوادونه چې طبیعي منابع لري، په زیاترو کې د زبرځواکو او دهغوی د فاسدو چارواکو فساد او خیانت دوام لري.
د بېلګې په توګه اوس هم د افریقې د مالي او نایجر په هیوادونو کې د فرانسی نظامي حضور ډیرې پوښتنې رامنځ ته کوي، چې آیا فرانسویان او امریکایان د هغوی د هیوادونو په دښتو او بیدیاوو کې په اصطلاح د تندلارو، اسلامي تروریستي ډلو پسی ګرځي او که د کاني سرچینو د موندلو او لوټلو په لټه کې دي.
د نایجر بیوزلی هیواد، له یورانیمو ډک دی او فرانسه خپله زیاتره برېښنا له همدې یورانیمو ترلاسه کوي.
که چېرې هلته اسلامي بنسټګر د یورانیمو زیرمې په خپل کنټرول کې راولي نو د پاریس د ایفل برج او دهغه ښار ټول څراغونه به مړه شي.
تر اوسه هم د کاني زیرمو پر سر بیشماره جګړی شوی دي. عراق د نفتو پر سر د پارس خلیج په لومړۍ جګړه کې پر کویت برید وکړ، په تیره پیړۍ کې د سیرالیون او لایبریا جکړه د الماسو پر سر رامنځ ته شوه.
داعش په دی وروستیو کې په عراق، سوریه او لیبیا کې هڅه وکړه چې د خپل خلافت لګښت د نفتو له لیاري ډاډمن او پوره کړي. په بورکینا فاسو کې اسلامي بنسټپال کوښښ کوي چې هلته د سروزرو پر ولکې سره همدا کار ترسره کړي.
د مدیتراني په سمندرګي کې د ګازو نوی تازه موندل شوی سرچینې، د ترکیې او یونان هیوادونه له یوی بلې جګړې او ترینګلي حالت سره مخ کړی دي.
ویلای شو چې اقتصادي قدرت بالاخره د سیاسي ځواک او توانایی په معنا دی، نو ځکه همدا لوبه په هر ډګر کې روانه او توده ده.
پر نفتو او ګازو، پر لړ موندونکو فلزاتو، آن په واښو او غلو دانو هم همدا ډول لوبه ترسره کیږي، اوبه هم ورځ تر بلې د سون له توکو زیاتې ارزښت مومي او په ډیرو سیمو او هیوادونو کې یې کړکیچ رامنځ ته کړی دی.
روسیې پر لویدیځه اروپا د ګازو د نل لیکې پر بندولو سیاسي زور ازمایې وکړه، همدارنګه د خپلو غلو دانو په وسیله هم په منځنې ختیځ او افریقا کې د سیاسي نفوذ د ټینګښت په هڅه کې ده او د سیاسي وسلې په توګه یې کاروي.
کوم هیوادونه چې د نړی مهم کاني مواد او نورې طبیعي سرچینې او زیرمې لري، پر نړیوال سیاست کې یې هم رول مهم او غښتلی دي.
دمګړی چې د چاپیریال ساتنې، شنه انقلاب او پاکې انرژۍ د ترلاسه کړلو په دې پړاو کې ځنو نادرو او لږ موندونکو فلزاتو لکه کوبالت، لیتیم او نورو ته اړتیا ده، نو هغه هیوادونه چې دا کاني مواد لري هرومرو به د دې تکنالوژیکي پړاو او شنه انقلاب فعال رول لوبوونکي وي.
په دی هکله به بله وروستی لیکنه د لعلونو پر خزاني یا د اسیا پر زړه افغانستان ولرو.

نور بیا

پوهنمل دکتوراندوس رحمت ځواکمن

هالنډ/ ۲۰۲۳-۹-۴


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ